# د ”ویښ زلمي“ ملي مترقي نهضت

# ویاړلی غړی




## محمدرسول مسلم کاکړ



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

## ۲-۲۶ محمد رسول مسلم

د دې تذکرې بل لیکوال ښاغلی مسلم دی چې د ده په باب همپوره معلومات نه دي ورکړل شوي.

له نجیب وروسته په ځینو پښتو تذکرو کې د مسلم د سوانحو په باب دا معلومات راغلي دي.

محمد رسول مسلم دمیرزا محمداعلم زوی، د محمد کرم نمسی په خته کاکړ او په کندهار کې زیږیدلی دی.

نوموړي خپل تحصیلات په خصوصي ډول له خپل پلار څخه پای ته رسولي دي چې د خپل وخت ښه عالم، مشهور خطاط او په انګریزي او اردو ژبو پوه سړی وه.

ښاغلی مسلم له ۱۳۰۴ هـ کال څخه تر ۱۳۰۷ هـ کال پورې د کندهار په لومړني ښوونځي کې ښوونکی وه او په ۱۳۰۸ هـ کال کې د ښاروالی د مصارفاتو په څانګه کې لومړی کاتب وټاکل شو او په ۱۳۰۹ هـ کال کې د ګمرک د مدیریت د لیکنې لومړی کاتب و، په ۱۳۱۱ هـ کال د ملکي شفاخانې د مدیر په حیث کار کاوه او په ۱۳۱۴ هـ کال کې د هرات د پښتو د کورس لوی ښوونکی د مدیر په رتبه وټاکل شو.

له ۱۳۱۹ هـ کال څخه تر ۱۳۲۱ هـ کال پورې د کندهار د تجارت په اتاق کې منشي و.

په ۱۳۲۲ هـ کال کې یې د (وطن) شرکت د پر یس فابریکې د څانګې د مامور په حیث وظیفه واخیسته.

په اوسني لیکوال کې د محمد رسول مسلم له خولې د طبیعي خصوصیاتو په باب داسې راغلي:

"زما طبیعي خصوصیات

۱ـ له ترینګلي سړي څخه مې بد راځي، ځکه چې پخپله ترینګلی نه یم.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

۲ـ له هغه چا څخه چې لکه مچ په هره کاسه کې بې سته لوېږي بد وړم، ځکه چې په خپله هرځای نه یم.
۳ـ له هغه چا څخه چې له خلکو څخه د خیراتي او قلماني یا بله توګه پیسې اخلي ډیر نفرت لرم، ځکه چې پخپله مې په عمر کې دا جک نه دي وهلي.
۴ـ ډیر شاکی سرې مې نه دي خوښ، ځکه چې پخپله که لږوي که ډیره وي قناعت پرلرم که لنده را ورسیږي خوښه که نه په وچه مې هم خواته بدیږي، ښه لباس مې ډیر خوښ دی مګر په معمولي لباس هم نه شرمیږم.
۵ـ په دخانیاتو او نشه را وستونکو شیانو کې د هیڅ شي عملي نه یم."
ښاغلی مسلم د پښتو ژبې لیکونکی او اجتماعي شاعر دی، خو شعر یې تر نثر ډیر دی. په عربي او اردو ژبو هم پوهیده او ښه د مطالعې څښتن دی.
د ښاغلي مسلم اجتماعي او تنقیدي شعرونه د هیواد په جرایدو کې په تېره بیا د طلوع افغان په ورځپاڼه کې ډېر خپاره شوي دي.

### ۲-۲۶-۱ د محمد رسول مسلم د شعر نمونه:

د محمد رسول مسلم د نظم یوه نمونه:

زمــا وروره ســې بــه ویښ پــه دوران کلــه
خلقو خپلې چارې وکړې تــه چاره کــې د ځان کلــه؟
ســه بیداره ســر اوچت کــړه قافلــه واړه رهــي ســوه
په یوه ســر ســفرکیږي چــې رهــي ســې کاروان کلــه؟
اتفــاق کــه دیانــت دی لــه قرآنــه هــدایت دی
مسلمان و ځان تــه وایــي عمــل کــړې پــه قــرآن کلــه؟
فلــک ورکــړه وهرچاتــه پرقــدر بانــدې یــې برخــه
پرمقصــد د پښــتانه بــه و څرخیــږي آســمان کلــه؟
نه شکوه سته لــه آســمانه نــه لــه بــل چاګیلــه مــن یــم
لــه خپــل لاســه را رســیږي پربــل چــادی تــاوان کلــه؟



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

په کوښښ سره رسیږي د انسان مقصد ترپایه
خود پخوده دی حل سوی مشکل امر آسان کله؟

لوی نقصان دی په وطن کې خیانت او نفاق ورور ه
چې ورک نه سي له مابینه یوزړه کیږي افغان کله؟

خوله درونیسه "مسلمه" ته چا داسي ربښتیا ګوی کړي
اوس عالم خوشحاله کیږي د ربښتیا په بیان کله؟(۷: ۱۲۳۵)



pashtoon.net / pashtun.info September 2017